# د رارسیدلو وروسته د ملاتړ او حمایت لیدنې

موږ به له تاسو سره د آنلاین( پړلیکه) توګه لیدنه وکړو ترڅو پوهه سو چې تاسو څنګه یاست او تاسو څنګه په بریتانیا کې ژوند ښکاره شو. دا ملاقات په هیڅ ډول ستاسو څخه امتحان یا آزموینه اخیستل نده او ستاسی کیس یا د کورنیو چارو وزارت د راتلونکو درخواستونو باندی هیڅ اغیز او تاثیر ونه لری. دا ملاقات یا غونډه یو فرصت ده چې تاسی ووینو او ستاسی ستونزی مقاماتو ته ورسوو.

**موږ څوک یو؟**

ریسیت (Reset) و کورنیو چارو وزارت لخوا موظف کړای شوی اداره ده چې دا ډول مجلسونه سرته ورسوو. موږ همدارنګه د ټولنی څخه د ملاتړ کروپ(Community Sponsorship group) چې ستاسی ملاتړ او حمتایه کوی سره کار کوو. موږ په ټوله بریتانیا کی میشت یو کوچنی کارسی ګروپ لرو او موږ د بریتانیا د دولت نماینده ګان نه یو.

**دا مجالس یا غونډی به څومره وخت بعد نیول کیږی؟**

بریتانیا ته ستاسی له راتګ ۲ یا ۳ میاشتی وروسته به موږ تاسی سره لمړنی مجلس او دوهم مجلس به یو کال وروسته ستاسی د بریټانیا ته د راتګ ترسره شی.

**د مجلس یا غونډی ګډون وال؟**

ستاسی د کورنی ټول ستر (غټ) کسان باید غونډی کی موجود ووسی، ریسیت استازی به هم د غونډی غړی او همدا رنګه د مجلس رهبری کوونکی وی، د کورنیو چارو وزارت استازی به هم په لمړنی غونډه کی شتون ولری او همدارنګه یو ژباړن به هم شتون ولری.

**د مجلس نوعیت به څه ډول وی؟**

دا مجلس به په ویډیویی (ویډیویی تماس) ډول ترسره شی

**د مجلس وخت به څومره وی؟**

د مجلس یا غونډی وخت به تر ۶۰ دقیقو یا یو ساعت اضافه نه وی.

**آیا موږ به دا مجلس یا غونډه ثبت کړو؟**

نه موږ به دا مجلس ثبت یا ریکارډ نه کړو خو موږ به ددی مجلس نوټ ونیسو او ریسیت (Reset) به دا نوټ په کورنیو چارو وزارت کی د ټولنی د حمایی یا ملاتړ ټیم (Community Sponsorship Team) سره شریک کړی او موږ به ستاسی په اجازه او موافقه دا نوټ د ټولنی د ملاتړ یا حمایی کروپ (Community Sponsorship group) چې ستاسی ملاتړ یا حمایه کوی سره هم شریک کړو.البته ستاسی اجازه اړینه ده.

**زمونږ پوښتنی به څه وی؟**

مونږ به ستاسی نظریه او موندنی په بریتانیا کی د ژوند په هکله وپوښتو او ستاسی میشتیدنه ستاسی په کور، ګاونډ او محله کی څه ډول ده. مونږ به تاسی څخه وپوښتو چی آیا ستاسی د کورنی ماشومان ښوونځی ته شامل شوی دی او لاسرسی مو ورته پیدا کړی، همدا رنګه د صحی خدماتو او نورو خدماتو په هکله لکه د جاب سنتر باره کی پوښتنی وکړو، ستاسی د انګلیسی ژبی زدکړی د مهارتونو او ستاسی لیوالتا د کارموندنی او داوطلب کار په هکله وپوښتو.
تاسی اړ نه یاست چی خپل محرمیات (راز) په صحی یا مالی برخه کی مونږ سره شریک کړی او مونږ به ستاسی هیڅ راز صحی او مالی محرمیت ستاسی له اجازی بغیر شریک نه کړو تر هغه چی زمونږ قانونی دنده وی.

**وقفه اخیستل**

موږ پوهیږو چې ستاسو د کورنۍ د ژوند او تجربې د ځانګړو موضوعاتو په اړه خبرې کول ستونزمن دی یا هم ښایی احساساتي شي. که تاسو وقتی ته اړتیا لرئ نو وقفه واخلئ یا کولای شی مجلس ودروئ، په دی برخه کی مهرباني وکړئ موږ ته خبر راکړئ. دا به په بشپړه توګه کومه ستونزه نه ده، او موږ به په دی کار ازرده یا خفه نشو.